PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلــنـه واوربده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منه وکړي او له الله نه وډار شــي او لــه سرغړونې څخه یې خان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکیني ګناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت دریم کال، ۳۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۳۷ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د لیندۍ ۲۳ مه د۱۴۳۲ هـ ق د محرم ۱۸ مه د۲۰۱۱ م د دسمبر ۱۴ مه

له امریکا سره د ستراتیژیک تړون په اړه بحثونه په وروستیو پړاوونو کې دي "لودین"

افغانستان به د جرمني، انګلستان، ایټالیا، فرانسې او یو شمېر نورو هېوادونو سره هم ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کړي

پژواک:
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وایي چې د کابل او واشنګټن ترمنځ د دواړو هېوادونو د ستراتیژیک تړون په اړه بحثونه په وروستیو پړاوونو کې دي.

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال جاوېد لودین، چې نن یې په کابل کې د المان له سفیر سره په ګډه خبري ناسته کې خبرې کولې، وویل چې د افغانستان او امریکا د حکومتونو ترمنځ د ستراتیژیک تړون د سند په اړه جدي بحثونه روان وو؛ خو د بن د کنفرانس له امله په دې کار کې یو څه ځنډ راغی.

د ده په وینا، دغه بحثونه به بېرته ژر پیل او ډېر ژر به دغه سند نهایي شي.

لودین د پژواک خبري اژانس د یوې

پاتې ۴ مخ

میان افغانستان و امریکا کدام قرار داد مبادله افراد وجود ندارد "کراکر"

کابل، رسانه ها:
در حالی که حکومت افغانستان یکبار دیگر از ایالات متحده ی امریکا خواسته تا عبدالقدیر فطرت را به افغانستان بر گرداند، مقامات سفارت امریکا در کابل می گویند، که قرار دادی میان افغانستان و امریکا بخاطر مبادلــه افراد وجود ندارد.

راین کراکر سفیر ایالات متحده امریکا به روز دوشنبه درصحبت باخبرنګاران درکابل گفت، که حکومت افغانستان تا اکنون به شکل رسمی از امریکا نه خواسته است تا اقای فطرت را به افغانستان بسپارد. ...

بقیه در صفحه ۴

پر ماشومانو دا بده ورځ چا راوستې ده؟!

محمد خلیل

دویم مخ

په پاکستان کې د ناټو حملې د اسلام اباد او واشنګټن اړیکې لا خرابې کړې "خلیلزاد"

کابل، رسنۍ:
د امریکا ولسمشر باراک اوباما د خپلو بهرنیو چارو د وزارت دا مشوره چې له پاکستان څخه دې بخښنه، وغواړي رد کړې ده.

خو د زلمي خلیلزاد په وینا متحده ایالاتو تر دې دمه له پاکستان سره په روابطو کې د کړکیچ د کمولو لپاره پر تکتیکي خوابونو تمرکز کړی دی.

نوموړی وایي تر څو چې پاکستان له وسلو والو ډلو څخه ملاتړ نه دوام ورکوي د

وروستي سرحدي ستونزې په شان پېښې به په

پاتې ۴ مخ

موافقتنامه خرید و فروش گاز میان افغانستان، ترکمنستان، هند و پاکستان امضا میشود

پژواک:
در آیندهٔ نزدیک افغانستان، ترکمنستان، هند و پاکستان، موافقتنامهٔ خرید و فروش گاز را در عشق آباد به امضا می رسانند.

در خبرنامهٔ دفتر سخنگوی رییس جمهور آمده است که این توافق، در دیدار حامد کرزی رئیس جمهورافغانستان با آقای بیرم گلیدی نادروف وزیر نفت، گاز و صنایع معدنی ترکمنستان صورت گرفته است.

به اساس معلومات منبع، دراین دیدار که دیروز در کابل انجام شد، نادروف گفت که موضوعات باقی ماندهٔ نشست امروزی اش با وزیر معادن افغانستان را، طی نشستی در عشق آباد، نهایی ساخته و هرچهار کشور موافقتنامهٔ خرید و فروش گاز را در آیندهٔ نزدیک، در عشق آباد پایتخت ترکمنستان به امضا خواهند رساند.

در مقابل، حامد کرزی با درنظرداشت اهمیت این پروژه گفته است که با تطبیق این

بقیه در صفحه ۴

حنا ربانی کهر: ما نمی خواهیم بشمول افغانستان با هیچ کشوری روابط خود را خراب سازیم

اسلام آباد، پژواک:
حنا ربانی کهر وزیرخارجه پاکستان می گوید که آنها نمی خواهند بشمول افغانستان با هیچ کشوری روابط ایشان خراب شود. موصوف این اظهارات را بتاریخ ۲۲ قوس پس از اشتراک در جلسه پارلمان آن کشور دراسلام آباد، ضمن صحبت با خبرنگاران اظهار داشت.

حنا ربانی افزود که پاکستان به دلیل اوضاع خراب افغانستان ،شکار تروریزم شده است.

موصوف ادعا کرد که مهاجرین افغان مقیم در این کشور، پس ازباز گشت به کشور خویش ، درآنجا به عملیات تخریب کارانه می پردازند که بعدا اتهام آن بر پاکستان وارد می گردد. درحالیکه پاکستان هیچ گونه مسؤولیت آنرا ندارد.

وزیر خارجه پاکستان افزود که آنها افغانستان را یک کشور مستقل می پندارد وبشمول امریکا همه کشورها باید به استقلال پاکستان نیز احترام داشته باشند.

حنا ربانی گفت که پاکستان خط مشی سیاست خارجی خود را دوباره مورد بررسی قرار می دهد ودر این مورد، یک کنفرانس دوروزه ای را در اسلام آباد با سفرای خود درسایر کشورها دایر نموده اند. موصوف این اظهارات درمورد روابط خود با افغانستان وسایر کشور ها را هنگامی ابراز می دارد که بتاریخ ۵ قوس نیروهای امریکایی در مهمند ایجنسی بر پوسته های پاکستانی حمله نمودند و۲۴ سرباز پاکستانی را به قتل رسانید.

پس از این واقعه روابط پاکستان وامریکا بسیار خراب شده است که دراثر آن؛ اکمالات نیروهای ناتو مقیم افغانستان را ازطریق پاکستان متوقف ساخته شده است.

از جانب دیگر لیون پنیتا وزیر دفاع امریکا گفته است که روابط خود با پاکستان را اهمیت می دهد ودر تلاش است تا روابط برهم خوردهٔ خود را دوباره درست سازند.

کراچۍ: د مدرسې نه ۵۷ په ځنځیر تړلي ماشومان تر لاسه شو

آزادي راډیو:
د پاکستان په کراچۍ ښار کې له یوې مدرسې څخه څه کم شپېته ماشومان او ځوانان په ځنځیرونو تړلي د پولیسو لاس ته ورغلي دي، د مدرسې زده کوونکي وایي چې دوي وهل ټکول کېدل او ځانمرګیو بریدونو ته هڅول کېدل.

د دوشنبې په شپه ناوخته د کراچۍ پولیسو د دې ښار په سوراب ګوټ سیمه کې د پټو استخباراتي مالوماتو پر اساس د "جامعه ذکریا" په نامه یوه دیني مدرسه محاصره کړه

پاتې ۴ مخ

صلح بین طالبان پاکستانی و حکومت این کشور به ضرر افغانستان است

امریکا، رسانه ها:
مذاکرات صلح حکومت پاکستان با طالبان آن کشور، راه را برای تندروان پاکستانی هموار نموده است که حمله کننده گان انتحاری بیشتر را به افغانستان بفرستند. بر اساس گزارش ایشیا تایمز، مذاکرات صلح حکومت پاکستان با طالبان، اختلافات بین واشنگتن و اسلام آباد را افزایش داده است.

تنشها بین امریکا و پاکستان بعد از آن افزایش یافت که دراواخرماه گذشته، دراثریک حمله هوایی ناتو ۲۴ سرباز پاکستانی کشته شدند.

بقیه در صفحه ۴

اعزامی

ائتلاف های جدید سیاسی

طی یک ماه اخیر حد اقل سه ائتلاف جدید در عرصه سیاسی کشور عرض وجود کرده اند، ائتلاف اول تحت نام جبهه وحدت ملی و مخالفت با تاسیس پایگاه های نظامی خارجی در افغانستان که دارای رهبر مشخص و شناخته شده نمی باشد و از اساسنامه و مرام ائتلاف مزبور، چنان پیداست که امور این جبهه بطور شورایی پیش برده می شود و گردانند گان آن غالباً علمای معروف، سران نهادها و یا سازمان های منشعب از احزاب جهادی سابقه و یکتعداد از روشنفکران مسلمان می باشند. ائتلاف دوم تحت نام "حزب حق و عدالت" می باشد این ائتلاف نیز دارای رئیس و یا رهبر مشخص نمی باشد، ولی از اعلامیه صادره آن به وضوح پیداست که گردانند گان این جبهه غالباً اراکین بلندپایهٔ دولتی کنار زده شده از قدرت، نامزد وکلای ناکام و معترض و یک تعداد عناصر و فعالینی که بعض شان در رژیم های چپی و راستی گذشته حضور فعال داشتند، میباشند. ائتلاف سوم فقط اخیراً طی بر گزاری محفلی و ضمن صدور یک ابلاغیه به نام جبهه ملی تشکیل گردید، گردانند گان این ائتلاف باز هم اراکین عالیرتبه دولتی بر کنار شده، سران احزاب جهادی و سیاسی و هواخواهان آنها می باشند.

هر سه ائتلاف نام برده در روزهای اخیر یکی پی دیگر در عرصه سیاسی عرض وجود کردند ...

(بقیه در صفحه سوم)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

دوکتور محمد انور

فساد اداری نُقل مجلس کنفرانس بُن
موضوع داغ بحث روز جهانی آن در کابل

با آنکه سیر قهقرایی امنیت و بالا رفتن گراف نارضایتی مردم و بی اعتماد شدن بر اجرات ادارات دولت در مرکز و ولایات را نمی توان تنها به فساد اداری نسبت داد، باز هم آنچه که جلالتمآب رئیس جمهور آنرا موضوع بحث هر مجلسی ساخته است، گرچه مؤثر بودن آنرا در تضعیف نظام کشور ما با اوشان می پذیریم اما در عوامل و راه های علاج و اینکه اوشان بحیث رئیس جمهور مانند یک نویسنده بی رول و اثر در مقام انتقاد زبان بکشایند موافق نیستیم و ملت مسلمان افغانستان زمانی او را در مقام ریاست جمهوری این کشور پذیرفته اند مناسب نمی دانند که رئیس جمهور شان بحیث رئیس هر سه قوا (اجرائیه، مقننه و قضائیه) قوماندان اعلی همه قوتهای دفاعی کشور در مقام ناتوانی زبان به شکوه بکشایند و ناتوانی شانرا در قانون نپذیری اشخاص و جهت ها به کنفرانس های بین المللی اعتراف نمایند، در حالیکه عوامل ناتوانی و ضعف آن هم از ماحول خود شان نشأت نموده باشد. خطرناکتر از همه ارادهٔ رئیس جمهور در غیر سیاسی ساختن نظام که پس از سالها اقدام عملی اکنون بحیث یک منطق استدلالی و فلسفه نظام به زبان شان جاری می گردد، باید برای آنهائیکه افغانستان را یک کشور صاحب نظام، دیموکراسی، آزادی های سیاسی و اجتماعی میخواهند قابل تشویش باشد که اینک نقاط از آنرا مورد بحث قرار میدهیم:

تیم همکار نظام تا آنجا که از نقاط مختلف جهان به اینجا کشانیده شده است در فراق فامیل، اهل و عیال بسر میبرد و این جنابان خواسته اند که فامیل خود را از دود باروت، خطر مرمی و غرش تانکها و وسایل زرهی بم و انتحاری در اروپا، امریکا، آسترالیا و ... جابجا نموده و خود را در اینجا گرفته بخاطر خدا و خدمت به وطن نیامده اند تا به از بیست تا شصت هزار دالر معاش و امتیازات بسنده کنند. اقلاً آنها بکس خالی ایرا که با خود آورده اند از اینجا مملو از دالر ببرند.

در مورد مثالیکه آقای رئیس جمهور طی آن طالب و صاحب پاسپورت خارجی را در یک کفه یی مساوی وزن نمودند من هیچ نسبتی نمی یابم کاش خود شان توضیح میکردند.

افغانی که آقای کرزی با او شناخت کامل دارد او را اهل امانت تشخیص داده، مستعد شناخته و بر صدها و هزارها انسان های اهل و شایسته، وطن او را ترجیح داده و جناب شان از این هم بی خبر نیستند که این آقا جنسیت و پاسپورت یک کشور خارجی را حمل میکند و برای رفت و آمد خود با پاسپورت و ویزه دیگر هم ضرورت ندارد. پس مسئول تعیین، ترجیح، حمایه و فرار او جز آقای رئیس جمهور چه کسی میتواند باشد؟ ما در برابر تصمیم یک رئیس جمهور آنهم در کشوریکه نظام ریاسی بر آن قبولانده شده و رئیس جمهور همه کارهٔ ملک است، اصطلاح زورمند را از زبان او نمی پذیریم.

راه احضار آقای فطرت رئیس قبلی د افغانستان بانک از امریکا به وطن از طریق ایراد بیانیه نیست هر گاه به راستی و مستند آقای فطرت شریک جرم غارت گران کابل بانک باشد چرا دولت و مقامات امنیتی افغان از طریق پولیس بین المللی انترپول داخل اقدام نمی شود؟ و دولت دوست ایالات متحده امریکا که برای آوردن ثبات در افغانستان جان فرزندان خود را قربان می کند و با شهرت جهانی خود بازی مینماید مگر حاضر نخواهد شد یک فرد شریک در فساد را دوباره به افغانستان بر گرداند؟ !

چند روز پیش یکی از خارجی ها مقام جهانی درجه دوم فساد را برایم تبریک گفت. در جوابش گفتم اگر این مقام در سالهای قبل از ۲۰۰۱ نصیب افغانستان میشد تبریکی شما را می پذیرفتم، اما اکنون که هر آنکه آمده است در توبره و طبراق شما آمده همچنانکه مسؤولیت آنرا نمی پذیرم افتخار و امتیاز آنرا هم بشما تبریک می گویم.

آقای رئیس جمهور به غیر سیاسی شدن همه دستگاه دولت تأکید نموده اند که گویا سیاسی بودن یک نظام در فاسد شدن آن اثری دارد.

این تصمیم شان مشعر برآنست که تیم ماحول رئیس جمهور در ساختن یک حزب سیاسی مطمئن و مورد استقبال مردم افغانستان ناتوان شده است، چندی پیش یک عده از افراد ماحول شان خیلی ها با طمطراق و با استفاده از همهٔ امکانات، امتیازات و مقامات دولت تبلیغاتی را بنام حزب جمهوری براه انداختند و مجموعهٔ بی استعداد، متملق، استفاده جو و فرصت طلب مانند حزب انقلاب ملی داؤد خان خواستند چون مگسان دور شیرینی به دور آن حلقه زنند. عدهٔ ماجراجو از آنجمله علیه تنظیم های جهادی تبلیغاتی را هم براه انداختند و بعضی ها مانند عناصر کیمیاوی متحول ولانسه میان احزاب جهادی سابقه و حزب نو تأسیس از عناصر بر سر اقتدار در طواف بودند. ولی این حزب که از تقدیم یک برنامهٔ منظم و داشتن فلسفه و هدف مشخص که از ضروریات یک حزب است عاجز و ناتوان بود محکوم به پراگندگی گردید، اکنون همین حلقه هایی برای دوام و بقای خود و ادامهٔ سردرگمی در نظام که یگانه ضامن ادامهٔ امتیازات این عناصر بی مهارت بر قدرت است آقای رئیس جمهور را به این تشویق می نماید که در برابر احزاب سیاسی در داخل ادارات دولتی بستیزد و همهٔ نظام را مانند قاضی، څارنوال، افسر اردو و پولیس از سیاست خالی کند. ولی آقای کرزی که باید در پایان نزدیک به ۱۳ سال تسلط بر مقدرات این سرزمین با ایجاد فضای مناسب از رشد احزاب سیاسی در کشور این امانت را با آنها تسلیم بنماید نباید جامعه افغانی را به یک سردرگمی رهنمون شود تا هر کسی در آن فقط یک سر و دو گوش باشد و چند نفری هم بر یک محور قابل اعتماد و اطمینان جمع شده نتواند بالاخره آنهائیکه احزاب سیاسی را در یک کشور می سازند نه در آسمان بسر می برند و نه هم در اعماق زمین در روی زمین و با مردم اند اگر معلم نباشد و مامور، اگر کارمند دولت نباشد و کارگر کارخانه، اگر امام مسجد نباشد ...

بقیه در صفحه سوم

پر ماشومانو دا بده ورځ چا راوستې ده؟!

محمد خليل

تېره اونۍ د بشري حقونو اداره په خپل يو راپور کې وويل چې بې شمېره افغان ماشومان نه يوازې دا چې شاقه کارونه کوي بلکې له هغوی سره د جنسي څورونې او قاچاق په څېر نور بد چلنونه هم کېږي، له دې څرګند واقعيت نه هېڅوک سترګې نشي پټولې چې ماشومان د ټولنې ښکلي او نازک ګلونه دي دهغوی عمر او بدن ددې ورتيا نه لري چې د ژمي په سخته يخنۍ او د اوړي په سخته ګرمۍ کې کارونه وکړي او خپلې کورنۍ ته د څو روپو په ګټلو د ژوندانه اړتياوې پوره کړي.

د ماشومانو عمر ددې خبرې تقاضا کوي چې دهغوی سالمه روزنه او پالنه وشي د علم او پوهې په ګاڼه سنبال کړې شي تر څو راتلونکې لپاره د خپلې خاورې او ولس دښه خدمت جوګه شي.

د اسلام سپېڅلی دين له ماشومانو سره د رحم او عاطفې لارښوونه کړې او محمد صلی الله عليه وسلم په څرګندو ټکو کې فرمايلي دي چې هر څوک زموږ پر ماشومانو رحم ونه کړي هغه زموږ له ډلې څخه نه دی.

همدغه راز د اسلام سپېڅلی دين له يتيمانو، نادارو، بې وزلو او معذورو وګړو سره د مرستې او همدردۍ امر کړی دی.

محمد صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: له ټولو نه غوره عمل او کړنه داده چې د کوم مسلمان زړه خوشاله کړي. که هغه مناسب لباس ونه لري نو لباس ورته واخلي او که خوراک څښاک لپاره څه نه لري نو په مړه ګېډه ډوډۍ ورته ورکړی، که تږی وي نو اوبه ورته ورکړی او که کوم څيز ته محتاج او اړ وي نو دهغه اړتياوې پوره کړی.

د اسلام سپېڅلي دين د لارښوونې په رڼا کې د اړو او ضرورت مندو وګړو اړتياوې پوره کول پر هر مسلمان د فرض حيثيت لري چې ادا کول يې خورا ضروري دی.

د يتيمو، کونډو، معذورو او عامو محتاجو وګړو ضرورت پوره کول د اسلام د مقدس دين لومړی غوښتنه ده، انسان لا څه چې حيوان ته هم خوراک څښاک ورکول له ثواب نه خالي نه دی.

په بخاري شريف کې حديث دی چې الله تعالی د يو سړي ګناهونه ترې سپي ته د اوبو ورکولو له امله وبخښل ، دا چې يو تږي سپي ته اوبه ورکول د کائناتو خالق او مالک ته دومره خوښ شو چې له امله يې دهغه ګناهونه وبخښل نو اشرف المخلوقات انسان ته خوراک څښاک او نور ضرورتونه پوره کول خو به لا زيات ثواب لري.

د افسوس خبره داده چې موږ ډېرو مسلمانانو خپل اسلامي مسؤوليت نه دی پېژندلی او د اسلام پر هغو لارښوونو مو عمل نه دی کړی چې پر کولو يې مکلف ګرځولي يو.

په دې هېواد کې يوازې د ماشومانو حقوق نه بلکې په ټوله کې د هر چا حقوق تر پښو لاندې شوي دي د ښځو، بوډاګانو، زيار کښو، مزدورانو، غريبو، ناتوانو او بې وزلو وګړو حقونه هم نه دي تأمين شوي، او د هر چا له خولې آهونه او فريادونه اوځي.

د ولسمشر په شمول حکومتي لوړ پوړي چارواکي، علماء، ليکوالان، شاعران او خطيبان خو ډېر څه وايي او ډېر څه ليکي مګر په عملي ډګر کې هېڅوک لازم ګامونه نه اخلي.

ځکه خو هېڅوک حکومتي لوړ پوړو چارواکو وېناو ته اهميت نه ورکوي او نه هم ورباندې زړه ترې چې ګويا د هغوی مسائل به څه ناڅه کم شي.

څرګنده خبره ده چې مسائل او مشکلات پخپله نه حل کېږي بلکې ددې د ختمولو لپاره صميم عزم، کلکه عقيده، مضبوط پلان او قوي اخلاص پکار دی.

که دولت او ولس لدېنه د خلاصون د ترلاسه کولو لپاره خپل بشپړ چمتووالی ښکاره کړي او په واقعي معنی صحيح پلان او منصوبه جوړه کړي نو له څه شک پرته به په ډېر لږ وخت کې ستر بری ترلاسه کړي او دا کار هله عملي ښه خپلولی شي چې زموږ په زړونو کې د انسانيت احترام او عزت راپيدا شي.

لوی الله (ولقد کرمنا بنی آدم) په ويلو ددې خبرې په اهميت زور ورکړی دی چې په ټول کائنات کې انسان تر ټولو زيات قدرمن مخلوق دی او دا کائنات يې دهغه د خدمت لپاره پيدا کړی دی خو له بده مرغه انسان خپل اهميت او ارزښت نه دی پېژندلی، دهغه څه غلامي ته يې سرټيټ کړی چې هغه اصلاً د انسان د استعمال او دهغه د ګټې لپاره دی، مثلاً مال او دولت ته پر انسان فوقيت ورکوي، د څو روپو او مال لپاره د انسان وينه تويوي، په عزت او آبرو يې تېرې کوي ډول ډول ظلمونه او تشدد ورباندې کوي.

زموږ د زړونو قساوت تر دې کچه رسېدلې چې له نادارو، مسکينو او بې وزلو ماشومانو او تور سرو سره د مرستې او لاسنيوې جذبه مړه، او د ظلم او جفا شوق دومره پياوړې شوې چې دهغوی له مجبوريت او ناتوانۍ څخه د خپلو شيطاني هوسونو د اشباع او د ناوړې ګټې د اوچتولو يوه شيبه هم له لاسه نه ورکوو.

څه چې کېږي ښه په ښکاره کېږي او ددغه ناروا عمل مرتکبين څرګند دي او ښه په نره يې کوي.

له هغوی سره مال هم شته او اقتدار هم، قوت هم شته او سرکاري سرپرستي هم. غريب وګړي لاچاره او بې وسه دي چې مخه يې ونيسي. آخر داسې يو هېواد به څنګه د ښې ورځې خاوند شي چې د خپلو ماشومانو له سرنوشت سره ناوړه لوبې کوي، خپل هغه نسل ګمراه او بې تهذيبه کوي چې د مستقبل معماران دي. له يوې خوا د افغانستان ګڼ ماشومان د غربت او افلاس له کبله ښوونځيو ته له تګ څخه محروم دي او ټول عمر په ډېرانو کې د پلاستيکو د ټولولو، په هوټلونو کې د لوښو د وينځلو او کوڅو کې د کباړ د راغونډولو په څېر په ډېرو شاقه کارونو کې تېروي، بل لورې هغه ماشومان چې ښوونځي ته ورځي دهغوی صحيح ښوونه او پالنه نه کېږي، ډېر استادان خپل اسلامي او ملي دنده په سمه توګه نه ترسره کوي، ډېرې داسې ليسې او ښوونځي شته چې شاګردان يې مطلق بې سواده دي د خپل کتاب عبارت هم نه شي لوستلې، په داسې حال کې چې ماشومان د هېواد مستقبل جوړوونکي دي.

د خاورې او ولس پرمختګ او خوشالي د ښه تعليم او تربيې سره تړل شوې، کوم ولسونه چې د خپلو ماشومانو ښه روزنه او پالنه وکړي، د دين ترڅنګ په عصري او ضروري علومو ښکلي کړي د امانت داري او ديانت داري په عقيده وروزي نو له څه شک پرته د ژوند په هر ډګر کې د فخر وړ برياوې ترلاسه کوي، او کوم ولسونه چې د خپلو ماشومانو له سالمې روزنې څخه غافل شي او د خشونت په فضاء کې لوی کړي هغوی د غلامۍ او محتاجۍ په ډنډ کې ولوېږي. که ولسمشر حامد کرزي او دهغه ټيم واقعاً غواړي چې د افغانستان ماشومان خپل حق ترلاسه کړي او د علم او پوهې په ګاڼه سنبال شي نو د تشو خبرو پر ځای دې عملي ګامونه واخلي، د هېواد سرمايه او بيت المال د څو محدودو کسانو له انحصار نه آزاد کړي او هغه لاملونه دې لرې کړي چې ماشومان شاقه کارونو کولو ته اړ کېږي.

هغو خلکو ته عبرتناکه سزا ورکړي چې له ماشومانو څخه ناوړه ګټه پورته کوي پر عزت يې تيرې کوي او پرديو هېوادو ته يې قاچاق کوي، لدې پرته په تشو خبرو ماشومان، کونډې رنډې او نور بې وزلي خلک کله هم خپل ځانونه د ظالمانو د جبر له زنځيرونو، نه شي خلاصولې.

اداري فساد

اصلاحات د ادارو نشته فساد دی
په فساد کې دا غريب ولس برباد دی
هسې خوند د خوار غريب له اوښکو اخلي
خواره ځغله ستا په برخه کې فرياد دی
مړوي د پارلمان د وړو ګېډې
د مظلوم سپيره په خاوره کې اولاد دی
د وزير خپلوان چې خلاص نشي کمبخته
د بستونو رقابت کله آزاد دی
حميد ياره ليونيه مرګ دی ښه دی
د پښتون په حال نن چغه د شمشاد دی

ائتلاف های جدید سیاسی

(ادامه از صفحه اول)

...و شاید ائتلاف های دیگری از این نوع هم در راه باشند که پس از طی مراحل و رایزنی های موسسین شان عرض اندام کنند. انگیزه تشکیل این ائتلاف ها به یکبارگی و در این برهه زمانی سوالات زیادی را در اذهان تداعی می کنند، زیرا چهره های که در تأسیس این ائتلاف ها سهم گرفته اند، اکثریت ایشان در گذشته از مهره های اساسی نظام فعلی بهٔ شمار می رفتند و در موضع گیری های شان همیشه سنگ ارادت به آقای حامد کرزی را به سینه می کوبیدند و کمتر کسی گمان میکرد که این خادمان پروپا قرص روزی به اپوزسیون نظام تبدیل شوند و سیاست دولت را زیر سوال ببرند.

شتابزدگی در تشکیل این ائتلاف ها را از آنجا دریافته می توانیم که چهره ها، احزاب، حلقات و عناصر کاملاً ناهمگون و غیر متجانس از نگاه عقیدتی و سابقه سیاسی گرد هم جمع شده و تشکیل ائتلاف داده اند، به استثنای ائتلاف "جبهه وحدت ملی و مخالفت با تاسیس پایگاه های نظامی خارجی" که گردانندگان آن جمعی از علما و تعدادی از فعالین احزاب جهادی سابقه که از نگاه عقیدتی و سیاسی با همدیگر تفاوت چندانی ندارند، باقی چهره های مؤسس دو ائتلاف دیگر، غالباً کسانی اند که اختلاف و ناهمگونی فکری، سیاسی و روحی در میان آنها بصورت آشکار به ملاحظه می رسد و این ناهمگونی ها از همین حالا گواهی می دهد که عمر این ائتلاف ها خیلی کوتاه و زودگذر بوده و شاید فقط هم با کشیده شدن دست دلجویی ارباب اقتدار به سر و روی آنها، عده ای آنها به سرعت ائتلاف را ترک گفته و بار دیگر در کنار دولت قرار بگیرند، زیرا قاعدتاً هر تصمیمی که با تعمق، تفکر و دور نگری اتخاذ شود، از پختگی، دوام و معقولیت برخوردار می باشد و تصمیمی که با عجله و شتابزدگی و بنابر هوای نفس اتخاذ شود، بهمان پیمانه شتاب ایجادی اش، راه نابودی اش را نیز می پیماید.

طی ده سال گذشته در جریان برگزاری لویه جرگه های اضطراری و تصویب قانون اساسی و نیز در جریان برگزاری انتخابات های ریاست جمهوری و پارلمانی ما شاهد تشکیل چندین ائتلاف و جبهه سیاسی از نوع فعلی آن بودیم، ولی همه آنها نوسانی، موقتی، فرصت طلبانه و عقده گشایانه بودند و به مجرد برآورده شدن خواست های نفسی گردانندگان، به بسیار سادگی و سرعت اجزا و بدنه ائتلاف از هم پاشیده و اعضای آن یا به بدنه دولت جذب شدند و یا به احزاب سابقه خود برگشتند، شاید در تشکیل ائتلاف های جدید، انگیزه های عدیده ای در کار باشند که در این برههٔ حساس زمانی روی صحنه آمدند، از آن جمله:

۱- برگزاری لویه جرگه عنعنوی در موجودیت نظام سیاسی، قانون اساسی و پارلمان برحال، به زعم بعضی از صاحب نظران با قانون اساسی همخوانی ندارد. چنانچه یکتعداد از اعضای ولسی جرگه خصوصاً ائتلاف پارلمانی (حمایت از قانون) سران بعضی از احزاب و نهادهای سیاسی و اجتماعی و عده از علما و فعالین سیاسی ازاین موضعگیری پشتیبانی میکنند و در عوض آنها خواهان برگزاری لویه جرگه قانونی، مطابق تعریف قانون اساسی میباشند.

۲- مسایلی که در لویه جرگه به شور و کنکاش گذاشته می شود، بنابر اهمیت آنها، احزاب و افراد را واداشته تا سکوت خویش را درهم شکسته و با تحرک و فعالیت بیشتر وارد صحنه شده و مسؤولیت های ایمانی و تاریخی خویش را درمخالفت و یا موافقت آنها ادانمایند.

۳- انتقال مسؤولیت های امنیتی به نیروهای ملی افغان و خروج تدریجی خارجی ها، نقش افغان ها را در عرصه نظامی و سیاسی برجسته می سازد و اختیار کردن بی تفاوتی و انزوا در این زمینه موجب خسارت و تاوان گزافی برای آنها خواهد شد، لهذا همه فعالین همزمان دست به تحرک سیاسی زده اند.

۴- نزدیک بودن انتخابات ریاست جمهوری و عدم علاقه جناب حامد کرزی برای کاندید شدن برای بار سوم، سبب شده که ائتلاف ها و جبهات سیاسی عدیده ای غرض معرفی یک کاندید دلخواه گرد هم بیایند و بخت شان را در کسب این مقام بیازمایند.

۵- احتمالاً بحث و تصمیم روی مسأله مصالحه با مخالفان مسلح دولت و شریک ساختن آنها در ساختار سیاسی نظام، بدون شک عده ای از طیف های سیاسی و اتنیکی و همچنان قشر زنان از این بابت نگرانی دارند و با تشکیل ائتلاف های جدید می خواهند که نکته نظرات خود شان را با قوت و رسای بیشتر به گوش مسؤولین و جامعه بین المللی برسانند.

۶- علاقمندی قدرت های بزرگ، خصوصاً بعضی کشورهای که در چوکات آیساف در افغانستان نیرو دارند و نیز همسایگان طماع و حریص کشور ما که در همچو مقاطع حساس نمی خواهند بیکار بنشینند و بخاطر برآورده شدن خواسته های شان، برخی حلقات و عناصر داخلی مربوط خویش را وادار می سازند که با راه اندازی حرکت های مرئي و نامرئی، اوضاع را بحرانی و متشنج بسازند تا آنها به آسانی از این آشفته بازار سهم خود را بگیرند.

۷- رویهمرفته باوجود آن همه انگیزه های مثبت و منفی نامبرده، از یاد نبریم که یکعده از فعالین سیاسی نه عقده محرومیت از مقام دارند و نه دغدغه رسیدن بقدرت و هوای ریاست؛ بلکه ادای مسؤولیت های ایمانی و ملی آنها، در برابر خدا، وطن و مردم و دفع توطئه های که هویت اسلامی و ملی ما را جریحه دار می کنند، استقلال و تمامیت ارضی ما را مخدوش می سازند و تاریخ درخشان ما را مکدر می سازند، قد علم کرده اند تا با فراخواندن آحاد ملت مسلمان به ایفای این مسؤولیت های دینی و تاریخی، جبهه ای را تشکیل بدهند که بخواست خدا کشور را از این وضعیت فلاکتبار، بحرانی و تحت الحمایه بودن نجات بدهند.

بقیه از سرمقاله ...

... و یا طبیب یک بیمارستان پس آن فضائیکه آقای رئیس جمهور برای تنفس احزاب سیاسی که از لوازم پلورالیزم در یک کشور روان بسوی دیموکراسی شناخته می شود چه فرضیهء در ذهن خود دارند؟ آخر این عناصر عقده مندی که در ساختن یک حزب سیاسی صاحب برنامه و مورد قبول و استقبال مردم ناکام و مأیوس اند چرا تا آخرین نقطه بر این سرزمین و اهل آن ظلم و جفا روا می دارند؟ و میخواهند رئیس جمهور را وادار به نهادینه نمودن سردرگمی و در هم پاشیده گی بنمایند.

هرگاه کتله های سیاسی در یک کشور با تقدیم یک برنامه عملی در جلب اعتماد و رأی مردم برای خدمت به عامه مردم در داخل نظام برقابت نپردازند و هر یکی بهتری و برتری عملی خود را در صدق و اخلاص، طهارت و شفافیت، دستگیری مردم محروم و ناتوان، حمایه از مظلوم و مقابله با ظالم و تجاوزگر و امتیاز خواه بی مهارت، بکار انداختن دست صنعت کار و حمایه از محصول دست او، دستگیری از دهقان و بذرگر و باغدار و جلوگیری از ضیاع حاصل رنج آن برقابت نپردازد و مردم را با آن متوجه نسازد که کدام حزب سیاسی شایسته تر است که بار امانت نظام را بدوش کشد پس سیاست معنایش چه است؟

هرگاه دارایی های هنگفتی از امانات ملی و کمکهای خارجی و آنهم بدست مسؤولین و گماشتگان دولت برای شکستاندن گروپ های پارلمانی احزاب سیاسی به مصرف رسد و مردم ما در سمت تشکیل گروپ های پارلمانی سمتی، قومی، نژادی و لسانی تشویق گردند این مصداق همان فرهنگ منحط (بعد از سر من سبزه نروید به جهان) نیست که تیم بر سر اقتدار در طی ده سال محض بخاطر دوام و بقای سلطهٔ خودش با جنایتکاران، دزدان، قطاع الطریقان، قاتلان و ناقضان حقوق بشر معامله نموده، ملیاردها دالر کمکهای خارجی را حیف و میل فرهنگ معافیت از قانون که از لذات آن حلقه های خاصی بهره مند اند فضای بی اعتمادی را در ملت ما عمق بخشیده و مردم را از روان شدن به سوی یک نظام عادل و شامل ناامید ساخته و آنها را تا سرحد قربانی جان شیرین شان در صف دشمنان مسلح نظام حاضر به انتحار می نماید.

آنهائیکه گمان میکنند در گوش چند مقام استخبارات بی دول قدرتمند جهان به این یکی مهر و بر جبین دیگری چسپی را حواله نموده و به حمایه و تأیید و سفارش آنها خود را بر مسند قدرت و امتیازات برسانند همان خائنین هستند که آقای رئیس جمهور کرزی همین اکنون از آنها به ستوه آمده و در کنفرانس بین المللی هم زبان به شکوه میکشاید که خود بر کرسی وزارتی تکیه زده پسر شان فلان قرارداد ذلیلانه را برای کسب امتیازات ملیاردها دالر با خارجی ها به امضا رسانیده و از آن شیردهنی را برای تغذیه مخالفین مسلح نظام باز گذاشته و چیزی را هم به بانکهای همان کشورها انتقال داده و تحفه یی را هم تقدیم قرارداد دهنده خارجی بکند و در این حلقه معیوبه که بصورت مرموز میان اطراف مغلق قضیه در دوام است آنهائیکه میسوزند تاراج، توهین و تحقیر میشوند ملت مظلوم و محروم ماست که این حلقه معیوبه چون طوق لعنت به گردن بدنصیب و بی امتیاز شان تحمیل می گردد.

تا آنجا که به بی اعتمادی مامورین و رول آن به روحیه مامور و تشویش از آیندهٔ خودش تعلق می گیرد که این بی باوری او را به اخذ رشوه وادار میسازد ما هم این را می پذیریم که تصور پا در هوا ماندن کارمندان دولت با آینده مجهول میتواند اراده او را سست گردانیده و وادار سازد برای فردای خود دست و پا بزند ولی هرگاه به عوامل آن دقت گردد باز هم از ماحول جلالتمآب رئیس جمهور بیرون نمی رود چه کمیسیونی را که بنام اصلاحات اداری توظیف نموده بودند در حالیکه هیچ نوع سابقه و آشنایی با نظام اداری افغانستان نداشتند به ذوق و سلیقه خود شان برای نصیب شدن معاش دالری افراد از دوستان خود را در آن ضمیمه و در عزل و نصب مامورین دولت با برخورد سلیقوی پایه های ایرا که در نظام اداری کشور از امیر شیر علی خان تا آنروز گذاشته شده بود برباد نموده و همه مامورین دولت را به اجیران قراردادی مبدل و آنها را به آیندهٔ شان بی باور ساخت با آنکه ما تجربه طولانی در ماموریت دولت نداریم اما بخاطر داریم که زمانی یک مامور دولت توصیه رسمی میشد، یا تبلیغ سری میدید و یا یک سال از ترفیع باز میماند اثر آن بر روحیه مامور به مراتب بالاتر از آن بود که اکنون به خارنوالی معرفی و یا محکوم به حبس میگردد.

در حالیکه جلالتمآب اکنون پس از ده سال از عدم تطبیق قانون بر زورمندان و ناتوانی شان برای رفع فساد اداری صحبت می نمایند چرا زمانی پس از هشت سال (دورهٔ مؤقت، انتقالی و دورهٔ اول ریاست جمهوری شان) از ناتوانی برای قانونمند ساختن نظام یقین حاصل نمودند برای دورهٔ دوم خود شان را گوشه ننموده و زمینه را برای کاندید شدن شخص توانمندتری خالی نگذاشتند تا فضا را برای نهادینه ساختن فرهنگ معافیت آمده نمی ساختند و برای قبولاندن تسلط شخصیت های مصنوعی فربه شده در اطراف شان تلاش نمی نمودند. چنانکه اکنون هم اطرافیان شان بخاطر دوام تسلط و امتیازات ناروایی خویش با استفاده از مقامات و امتیازات دولتی در پی آن هستند که چگونه جانشین مناسب به ریاست جمهوری بر این سرزمین تحمیل نمایند که در پی محاسبه جنایات چندین ساله شان نگردد و برای همیشه اینها بر گردن مردم بی دفاع ما سوار و بر دهن آنها قیضه انداخته و فرزندان این دیار را برای یافتن لقمهٔ نانی راهی زندان های پاکستان، ایران، سرحدات ترکیه و یونان و یا خوراک نهنگان کرانه های سواحل آسترالیا و اندونیزیا بسازد.

د اسلامي تاريخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(يو ديرشمه برخه)

س۵۰۸: چا لومړی په عربي ژبه خبري کړي؟
ځ: د الباني په کتاب جامع صغير کې داسي راغلي: لومړی سړی چې په عربي ژبه يې خوله پرانستي اسماعيل عليه السلام و او نوموړی څوارلس کلن و.

س۵۰۹: چا په اسلام کې لومړی صدقه د خپل ځان خاص کار و ګرزاوه؟
ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه لومړی سړی و چې په اسلام کې يي صدقه د خپل ځان کار و ګرزاوه.

س ۵۱۰: د خلکو نه به چا ته لومړی جامي ور اغوستل کيږي؟
ځ: ابراهيم (ع) به لومړی سړی وي چې جامي به ور اغوستل کيږي.

س ۵۱۱: دحديبې دصلحې نه وروسته دښځو نه چا لومړی هجرت وکړ؟
ځ: ام کلثوم د ابي معيطه لور لومړۍ ښځه وه چې د حديبي د صلحی نه وروسته هجرت وکړ.

س۵۱۲: په قرآن کريم کې لومړی اوږود آيت کوم يو دی؟
ځ: لومړی اوږود آيت په قرآن کريم د سورتي بقري ۲۸۲ آيت دی چې د (دين) په آيت يادېږي.

س۵۱۳: زمونږ په زمانه کې چا لومړی د اسلامي مالي او اقتصادي نظام د پلي کولو غوښتنه وکړه؟
ځ: د پانګوني اسلامي شرکت چې په شارجه کې مرکز لري، لومړی شرکت و چې داسلامي مالي اواقتصادي نظام دپلې کيدو غوښتنه يې وکړه.

س۵۱۴: په څوارلسم هجري قرن کې په اقتصاد او مصارف اسلامي کې چا لومړی کتاب وليکه؟
ځ: دکتور عيسی عبده رحمه الله لومړی سړی دی چې په دې هکله يې شهرت تر لاسه کړی.

س۵۱۵: چا لومړی د الله په طرف خلکو ته بلنه ور کړه په داسي حال کې چې پخپله په زندان کې و؟
ځ: يوسف عليه السلام لومړی سړی و چې په زندان کې يي د الله په طرف يي خلکو ته بلنه ور کړه.

س۵۱۶: لومړی شی څه شی دی چې د پيغمبر عليه السلام د امت نه به اخستل کيږي؟
ځ: ابن ماجه او دار قطني د ابو هريره نه روايت کوي وايي: پيغمبر عليه السلام فرمايلي: (فرايض) زده کړئ او خلکو ته يي و ښايي؛ ځکه چې دا نيم علم دی، او هيريدونکي دي او دا لومړی شی دی چې زما د امت نه به اخستل کيږي.

س۵۱۷: لومړی خطبه چې پيغمبر عليه السلام د هجرت نه مخکې په مکه کې ور کړي ده کومه وه؟
ځ: د هجرت نه مخکې پيغمبر عليه السلام لومړی خطبه هغه وه چې خلک يي راټول کړل، د الله ثنا او صفت يي و ويلو بيا يي و ويل: مشر خپل قوم ته درواغ نه وايي، قسم دی که ټولو خلکو ته درواغ و وايم، تاسي ته يي نه وايم، او که د ټولو خلکو ته دوکه ور کړم تاسي ته يي نه درکوم، قسم په هغه الله دی چې د هغه نه سوا بل الله نه شته، چې زه ستاسي لپاره خاص او د نورو خلکو لپاره عام رسول يم، قسم دی چې تاسي به لکه څنګه چې بيده کيږئ داسي مړه کيږئ او لکه څنګه چې ويخيږئ داسي به د قبرونو نه را وستل کيږئ، او هر څه چې کوی د هغه حساب به در سره کيږي، د نيکی پر ځاي به نيکي او بدی پر ځاي به بده جزا در کول کيږي، رښتيا ده چې يا ابدي جنت او ابدي دوزخ دی.

س۵۱۸: د امام حسن البنا لومړی وصيت (نصيحت) کوم و؟
ځ: د امام حسن البنا لومړی نصيحت د هغه دا وينا وه: کله چې دي اذان واوريدو په هر حالت کې چې وي د لمانځه د ادا کولو لپاره پورته شه.

س۵۱۹: چا لومړی اسلامی ميلمستون جوړ کړی؟
ځ: عمر بن خطاب لومړی شخص و چې د اړو خلکو لپاره يي ميلمستون جوړ کړی و او د وړو، سره کړو وړو او خورما په نوم ياديده.

س ۵۲۰: په ورځ د قيامت به لومړی الله پاک مومنانو ته څه وايي؟
ځ: د معاذ بن جبل نه روايت دی وايي: پيغمبر عليه السلام و فرمايل: که تاسو غواړئ چې د هغه څه نه مو خبر کړم چې په ورځ د قيامت به يي الله په لومړي ځل مومنانو ته او مومنان به يي الله پاک ته وايي: مونږ و ويل: هو يا رسول الله مونږ غواړو، پيغمبر عليه السلام و فرمايل: الله پاک مومنانو ته فرمايي: ايا زما ملاقات مو خوښ شو؟ مومنان به و وايي: هو، الله پاک به و فرمايي: ولې؟ مومنان به و وايي: ستا د عفو او مغفرت (بخنه) په اميد مو ستا ملاقات خوښ شو، الله پاک به و فرمايي: زما بخنه ستاسو لپاره واجب شو.

س ۵۲۱: چا لومړی د ځمکي د جاذبي قوي په هکله نظر وکړی؟
ځ: خازن يو مسلمان مشهور عالم لومړی سړی و چې د ځمکی د جاذبي قوي په هکله يي نظر ور کړی: هغه ويلي: شيان چې په مځکه لوېږي دا د جاذبی قوې په خاطر دی، او د سرعت، مسافی او دروندوالی تر منځ تړاو شته، خازن دا خبره د (نيوتن) د پيدايښت نه په سلګونو کاله مخکې کړی ده، او ډيرو نورو مسلمانو عالمانو د جاذبه قوی د قانون نه خبري کړي دي.

(نور بيا)

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د کرزي ښې ورځې هم هغسې ښې نه دي چې باید وي

فارن پالیسي خپرونه:

فارن پالیسي خپروني د افغانستان په اړه په یوه مطلب کې تردې سرلیک لاندې چې افغان ولسمشر د راتلونکو لسیزو لپاره له لویدیځ د ملیاردونو ډالرو د مرستې غوښتونکی دی، لیکي:

تیره اونۍ د بن په کنفرانس کې ولسمشر حامد کرزي د افغانستان نړیوالو مرسته کونکو ته وویل، چې موږ ستاسو کلک او دوامدار ملاتړ ته یوه بله لسیزه او یاهم ښایي تر ۲۰۳۰ کال پورې اړتیا لرو.

د فارن پالیسي لیکوال وړاندیز کوي، که کرزی ژمنه وکړي چې د ۲۰۱۴ کال د جمهوري ریاست له انتخاباتو مخکې له سیاسته لاس اخلي، لویدیځ دې په افغانستان کې د اوږدې مودې لپاره پاتې شي.

فارن پالیسي وړاندې لیکي، له افغانستان سره په ملکي برخه کې د پراخو مرستو په چاره کې په دې وروستیو کې مخ په زیاتیدونکې ستونزې راپورته شوي او علتونه یې هم دا ډول بیانوي:

بهرنۍ مرسته د بودیجې د سیاستونو ښکار شوې، د افغانستان له جګړې عامه ملاتړ په چټکې سره په کمیدو دی، امریکایي خواکونه به ډیر ژر له دې هېواده په وتلو پیل وکړي او که د اوباما پلان عملي شي نو په راتلونکو دریو کلونو کې به ټول سل زره امریکایي عسکر له دې هېواده ووځي.

بله مسله دا ده، چې په افغانستان کې په تیره یوه لسیزه کې موږ تقریبا ۱۹ ملیارده ډالره مصرف کړي خو ډیرې کمې لاس ته راوړنې لرو چې خلکو ته یې وښیو.

د فارن پالیسي په وینا تر ټولو بده خو لا دا ده چې په بدو وختونو کې کرزی له ناټو څخه طالبانو ترجیح ورکوي.

خپرونه لیکي، د کرزي ښې ورځې هم هغسې ښې نه دي چې باید وي.

له امریکا سره د ستراتیژیک...

پوښتنې په ځواب کې وویل: "هر کله چې دغه سند نهایي شو، بیا به یې پایلې پارلمان ته واستول شي او جزئیات به یې هم په ډاګه شي."

له امریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو او د دولت له وسله والو مخالفینو سره د خبرو پر میکانیزم د مشورو په موخه، د تېرې میاشتې په وروستیو کې په کابل کې د شاوخوا دوو زرو تنو په ګډون دودیزه لویه جرګه جوړه شوه.

دودیزې لویې جرګې د یو پرېکړه لیک په صادرولو سره په مشروط ډول، له امریکا سره د ستراتیژیک تړون د لاسلیکولو او په افغانستان د هغه هېواد له پوځي اډو سره هو کړه وکړه.

په پرېکړه لیک کې د افغانستان خپلواکي او د ملي حاکمیت ساتنه او داسې نور، له امریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو لپاره د شرطونو په توګه وړاندې شول او په کې راغلي، چې ستراتیژیک تړون باید د لسو کلونو لپاره وي.

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال، د افغانستان لپاره د بن نړیوال کنفرانس مهم وباله او ویې ویل، چې افغانستان په دغه کنفرانس کې په بېلابېلو برخو کې د نړیوالو ملاتړ ترلاسه کړ.

یاد شوی کنفرانس د لیندۍ په ۱۴مه، د بن په جرمني ښار کې د نړۍ د ۸۵ هېوادونو او ۱۶ نړیوالو سازمانونو د شاوخوا ۱۰۰۰ استازو په ګډون، ترسره شو.

پر سیاسي پلورالیزم او د افغانستان پر اساسي قانون ولاړ راتلونکی سیاسي نظام، د بشري نړیوالو حقونو پر وړاندې نړیوالو مسوولیتونو ته د افغانستان ژمنتیا، له حکومت سره د موازي ادارو له منځه وړل، له ۲۰۱۴ کال وروسته له افغانستان سره د نړیوالي ټولنې ملاتړ او د افغان ځواکونو روزنه او تجهیز، د نشه يي توکو پر وړاندې په تېره بیا د تقاضا له اړخ سره يي پر مبارزې ټینګار، د خبرو له لارې د سیاسي حل پر اړتیا ټینګار او له افغانستان سره د نړیوالي ټولنې اقتصادي ملاتړ، د بن د دویم کنفرانس د اعلامیې له مهمو ټکو څخه دي.

لودین وایي، چې د امریکا د متحده ایالتونو ترڅنګ افغانستان په پام کې لري د جرمنۍ، انګلستان، ایټالیا، فرانسې او یو شمېر نورو هېوادونو سره هم ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کړي.

په ننۍ خبري ناسته کې په کابل کې د جرمني سفیر رودیګر کیونیګ هم، یاد شوی کنفرانس د افغانستان لپاره مهم و باله.

ده زیاته کړه چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته به هم، جرمني له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې پوره همکاري ولري.

د ده په وینا: "نړۍ به دا خل هېڅ مهال افغانستان د ۱۹۸۹ کال په څېر تنها پرې نږدي."

هغه وایي چې د بن د کنفرانس سند، د افغانستان لپاره یو ډېر مهم او قوي سند دی.

د سرچینې د څرګندونو له مخې، د افغانستان او جرمني ترمنځ به د دوستۍ یو تړون هم لاسلیک شي.

د بهرنیو چارو وزارت مرستیال جاوید لودین وویل، چې په ۲۰۱۲ کې به د افغانستان په اړه څلور لوی کنفرانسونه جوړ شي.

د هغه د معلوماتو له مخې، د راتلونکي کال د مې په میاشت کې به د امریکا په شیکاګو کې د افغانستان په اړه د ناټو سرمشریزه غونډه جوړه شي، چې په هغه کې به د افغانستان د امنیتي ځواکونو پر پیاوړتیا خبرې وشي.

لودین وویل ، چې د ۲۰۱۲ کال د جولای په میاشت کې به د جاپان په مرکز توکیو کې د افغانستان په اړه یو کنفرانس جوړ شي، چې په هغه کې به افغانستان په اقتصادي برخه کې نوي تعهدات ترلاسه کړي.

د ده د معلوماتو له مخې، د راتلونکي کال د جون په میاشت کې به په کابل کې یو سیمه ییز کنفرانس جوړ شي، چې په هغه کې به په سیمه ییزو ستونزو خبرې وشي.

لودین زیاته کړه چې د یاد شوي کال د مارچ په میاشت کې به هم، د دوشنبې په ښار کې د افغانستان لپاره یو بل اقتصادي کنفرانس جوړ شي.

میان افغانستان و امریکا کدام ...

آقای کراکر در مورد چنین گفت:

"آقای فطرت به شکل قانونی در ایالات متحده امریکا به سر می برد. برای برگشتاندن او به افغانستان تا هنوز از سوی دولت افغانستان کدام درخواست رسمی صورت نگرفته است. برای این کار یک پروسه موجود است که باید تعقیب گردد. اما تا حال از ما به گونه رسمی در این مورد تقاضا نشده است. در میان این دو کشور کدام قرار داد هم در باره ی سپردن افراد موجود نیست.

اما پروسه های است که می توان از آن طریق پیش رفت، اما تا جایی که من اطلاع دارم این پروسه هم آغاز نشده است."

رییس جمهور کرزی به روز یکشنبه طی نشستی در کابل، از امریکا خواست تا عبدالقدیر فطرت را به افغانستان بر گرداند.

لوی څارنوالی افغانستان، آقای فطرت را یکی از عاملان بحران کابل بانک خوانده و گفته است، او مورد پیګرد قانونی قرار خواهد گرفت.

اما عبدالقدیر فطرت رییس پیشین دافغانستان بانک که در ماه جون سال روان به امریکا رفت و در آن جا اعلام کرد که از سمت اش به عنوان رییس دافغانستان بانک استعفا داده، ادعا ها در مورد دخیل بودن اش در بحران کابل بانک را رد کرده است.

آقای کرزی در مراسم تجلیل از روز جهانی مبارزه با فساد اداری خواهان برگشتاندن آقای فطرت به افغانستان شد.

او هم چنان به قرارداد هایی که میان برخی از مقام های افغان و خارجی ها عقد می شود، اشاره کرده و گفت که این مساله زمینه را برای فساد و عدم تطبیق قانون در کشور مساعد می سازد.

در همین حال سفیر امریکا در کابل می پذیرد، که در قرار داد های امریکا هم بعضی خلا های وجود دارد.

آقای کراکر: "ما در محضر عام قبول کردیم که شاید خلا های که به طور تصادفی در قرار داد های ما به میان آمده، در مشکل فساد اداری نقش داشته باشد. از همین لحاظ وزارت دفاع در بخش قرار داد های نظامی و اداره یو اس ای دی در بخش ملکی پروسه ی قرارداد ها را از مورد تجدید نظر قرار داده اند، تا اطمینان حاصل کنند که چنین استفاده های نادرست از این قرار داد ها در آینده تکرار نمی شود."

آقای کراکر گفت، که کشور اش مساله ی فساد اداری در افغانستان را جدی می گیرد، و هر گاه گدام تبعه امریکایی به فساد متهم شود، به طور فوری در مورد آن تحقیق صورت می گیرد.

به گفته وی در و سال گذشته در همین ارتباط بیشتر از ۴۰ تن محاکمه شده اند که در نتیجه آن نزدیک به صد میلیون دالر دوباره به دست حکومت افتاده است.

شماری از مقامات افغان می گویند، در جامعه جهانی هم فساد اداری موجود است اما از جانب دیگر هم اعتراف می کنند، که در ادارات دولتی رشوه وفساد اداری به یک فرهنگ مبدل شده است.

په پاکستان کې د ناټو حملې ...

راتلونکې کې هم رامنځته کیږي.

په کابل کې د امریکا پخواني سفیر په خپله مقاله کې زیاتوي:

د اوسنی ستراتیژی د مفهوم د تغییر او د دې لپاره چې پاکستان له وسله والو ملاتړ بند کړي یو پراخ بنسټه پلان ته اړتیا ده .

زلمی خلیلزاد زیات ددې لپاره دوه پیشنهادونه لري : لومړی متحد ایالات باید پاکستان ته واضحه کړي چې ددغه هیواد د اوسنی تګلارې دوام څه خطرونه لري.

پاکستاني جنرالان باید دا ومني چې تر څو هغوی تروریستان روزي، مالي مرستې ورسره کوي او افغانستان ته یې راستوي، په سرحدي سیمو کې به ناټو ورته ګامونه اخلي.

د امریکا کانګریس باید له پاکستان سره خپلې اقتصادي او پوځی مرستې د افغانستان په مسله کې د اسلام اباد همکارۍ پورې مربوطې کړي.

د امریکا او پاکستان تر منځ د اوسني بحران د کمیدو لپاره د زلمي خلیلزاد دویم پیشنهاد دا دی چې واشنګټن باید پاکستان ته په هغه صورت کې چې طالبان له افغان دولت سره خبرو ته چمتو کړي، یو څه امتیازات ورکړي.

په دغو خبرو کې باید امریکا د پاکستان قانوني ګټې هم په پام کې ونیسي او پاکستان باید ژمنه وکړي چې د هغو طالبانو پرضد به اقدامات کوي چې د خبرو اترو د پروسې مخالفت کوي.

ښاغلی خلیلزاد وړاندې وایي چې متحده ایالات د دغو دواړو موضوعاتو د باورې کولو لپاره له خینو چلنجونو سره مخامخ دي.

د پاکستان په پوځي مشرتابه کې اکثره په دې باور دي چې امریکا له افغانستان څخه په وتو ده، دوی د افغان دولت او د متحده ایالاتو تر منځ اړیکو کې کړکیچ هم په پام کې نیسي او باور لري چې افغانستان کې د حکومت او خلکو تر منځ د فاصلې له امله به وروسته تر دې چې نړیوال ځواکونه ووځي، د کابل حکومت یو کمزوری لوبغاړی وي.

د مقالې په دوام کې زلمی خلیلزاد وایي :

که متحده ایالاتو د پاکستان په وړاندې پرېکنده عمل و کړ نو کیدی شي دغه هیواد خپلې اوسنی پالیسي ته ورپیښ خطرونه له سره محاسبه کړي او هغه شان عمل و کړي لکه څرنګه چې یې د ۲۰۰۱م کال د یوولسم سپتمبر له حملو وروسته وکړ یعنې د امریکا د فشار په نتیجه کې یې د طالبانو له رژیم خپل ملاتړ ودراوه.

زلمی خلیلزاد د خپلې لیکنې په پای کې وایي :

دا د دې وخت نه دی چې امریکا خپله حوصله له لاسه ورکړي، که د پاکستان ۲۴ سرتیري وژل شوي، د امریکا او متحدانو یې هم زرګونه عسکر وژل شوي دي.

د نوموړي په وینا زیات شمېر افغان سرتیري او ملکي وګړي د هم هغو وسله والو په بریدونو کې وژل کیږي چې پاکستان یې ملاتړ کوي او ورته یې خوندي پناه ځایونه ور کړي دي.

موافقتنامه خرید و فروش گاز...

پروژه، نه تنها رشد اقتصادی میان چهار کشور تسریع می گردد، بلکه بالای امن و ثبات در منطقه نیز تاثیرات مثبتی خواهد گذاشت.

در این دیدار، وحیدالله شهرانی وزیر معادن و قربان مرادوف رئیس انکشاف ذخایر نفت و گاز انستیتوت نفت ترکمنستان، نیز حضور داشتند.

این درحالی است که از مدت حدود یک ماه به این طرف، قیمت گاز مایع در افغانستان، از ۵۰ افغانی به حدود یکصد افغانی افزایش یافته است.

برای رفع این مشکل، وزارت تجارت و صنایع افغانستان روز گذشته اعلام کرد که ده هزار تن گاز را خریداری نموده و به قیمت نازل، به شهریان کابل عرضه خواهد کرد.

کراچۍ: د مدرسې نه ۵۷ ...

او له مدرسې څخه یې اووه پینځوس کسان تر لاسه کړل چې وایي، عمرونه یې له پینځلس کلنی تر څلوېښت کلنی پورې دي او ښو او لاسونو ته یې ځنځیرونه وراچول شوي وو او په یوه مځکنی کوټه کې ساتل شوي وو چې د خیبرپښتونخوا، کراچی او افغانستان اوسېدونکي دي. د پولیسو یو مشر ملک الطاف وایي:

"موږ زیرزمینی ته ور کښته شوو، اووه پینځه ته مو وموندل چې اکثره یې کم عمره هلکان او یو څو ته ځوانان هم وو، له دوی سره دلته زور زیاتی کېده، په لښتو او لرګیو وهل کېدل، د دوی ټولو طبي معاینه به کوو، ځکه ځینو ماشومانو موږ ته وویل چې پر دوی باندې جنسي تېری هم کېدهٔ، دوی په دوامداره توګه دلته ساتل شوي وو، د چا درې میاشتې، د چا شپږ میاشتې او د چا کال او دوه کلونه دلته شوي وو."

پولیسو له مدرسې څخه دوه تنه نور هم نیولي دي چې پر دغو ماشومانو باندې د څارنې لپاره ګومارل شوي دي، له دوی څخه یې یو قاري عثمان نومېږي چې د مدرسې مهتمم بلل شوی دی.

په ځنځیر تړلی یو کس وایي، د دوی مشر مفتي داوود وو چې ماخوستن به ته نو مدرسه به یې په دوی پسې کولپ کړه:

"موږ ته یې د جهاد روزنه راکوله، طالبان ! ! طالبان یې راځخه جوړول، موږ ته یې ویل تاسې ته دلته روزنه درکوو بیا به مو ژر ولېږو."

له مدرسې څخه په ځنځیرونو له تړلیو ماشومانو څخه یو یې وایي، چې پلرونو یې د میاشتې دیارلس زره کلداري هم ورکولې خو پلرونو ته یې اجازه نه ورکول کېدله چې له دوی سره په مدرسه کې ووینې، وایي دوی ته سمه ډوډۍ هم نه ورکول کېدله او تل په لوږه کې ساتل کېدل:

"پلار مې راته ویل دلته زدکړه کوه، سهار ورته راځه ماسپښین بیرته راځه، زه چې راغلم په لومړۍ ورځ یې لاسونه پښې په ځنځیرونو راوتړل، که به کرار ګرځېدو هم وهلو یې که به تېز ګرځېدو هم وهلو، لوښې یې هم په موږ مینځل هر کار یې په موږ کاوه."

خو د یوهٔ ماشوم پلار بیا وایي چې په دې مدرسه کې په نشه د روږدو کسانو درملنه کېدله، وایي دهٔ هم خپل زوی له ځنځیر او کولپ سره په دې مدرسه کې داخل کړی دی:

"قریباً له دریوو کلونو راهیسې مې زوی نشه کوله، ما څو څو خله له نشو څخه د ژغورلو په ادارو کې شامل کړ، لس -لس، دوولس- دوولس زره کلدارې مې ورکولې، دې مدرسې ته مې هم د همدې لپاره راووست چې هم به زدکړه وکړي او هم به یې صحت ښه شي."

په کراچۍ کې د جامعه بنوریه په نامه د یوې لویې دیني مدرسې رئیس مفتي نعیم وایي که دا واقعاً مدرسه وي، نو په مدرسه کې له خلکو سره داسې چلند کول یو غیراسلامي او بشري ضد عمل دی، خو وایي دوی له تېرې شپې راهیسې پلټنې کړي چې دغه دیني مدرسه نه بلکې په نشه د روږدو کسانو د درملنې یوه اداره ده.

د سیند ایالت والي یا ګورنر عشرت العباد په مدرسه کې په ځنځیرونو د دغو ماشومانو تړل او وهل ټکول یو غیرانساني او غیرانساني عمل بللی دی، همدارنګه د پاکستان د داخله چارو وزیر رحمن ملک په مدرسه کې د ماشومانو پرغمل کېدل غندلې او د پلټنو امر یې صادر کړی دی، وایي که دغه ماشومانو ترهګری ته هڅول کېدل نو عاملینو ته به یې سخته سزا ورکړل شي.

صلح بین طالبان پاکستانی و ...

احسان الله یک تن از سخنگویان طالبان پاکستانی، گزارش ها در مورد مذاکرات این گروه با حکومت پاکستان را رد نموده است، ولی قبلاً رهبر طالبان پاکستانی در باجور مولوی فقیر محمد، به آژانس خبری رویترز و رسانه های پاکستانی گفته بود، مذ کرات شان با حکومت پاکستان پیشرفت نموده است و حکومت در یک اقدام حسن نیت. ۱۴۵ زندانی طالب را، آزاد ساخته است و هردو طرف آتش بس را رعایت نموده اند.

روزنامه ایشیا تایمز که از طریق انترنیت از تایلند نشر می شود دیروز نوشته بود، چنان به نظر می رسد که حمله کننده گان انتحاری پاکستانی، توجه را از کشور خود به سوی افغانستان تمرکز داده اند. بر اساس گزارش ایشیا تایمز در چند ماه گذشته، تعداد حملات انتحاری در افغانستان شدیداً افزایش یافته است و آخرین آن، حمله روز سه شنبه گذشته در کابل بود که در روز عاشورا حد اقل ۵۶ کشته به جا گذاشت.

این حمله یک روز بعد از کانفرانس بن رخ داد، کانفرانس که پاکستان در آن احتجاجاً شرکت نکرده بود. رییس جمهور افغانستان گفت، این حمله را، بخش العالمی لشکر جنگوی مستقر در پاکستان انجام داده است که حملات این گروه در خارج از آن کشور را به پیش میبرد. لشکر جنگوی گروه نظامی سپاه صحابه است و تحریک طالبان پاکستان هم، بخش ازهمین سپاه صحابه میباشد.

ایشیا تایمز از قول کارشناسان سیاسی نوشته سپاه صحابه حیثیت مادر را برای تعداد از از گروههای مربوط مدرسه دیوبندی دارد.

وزیر داخله پاکستان از طالبان سپاس گذاری نموده است که امسال در ۱۰ روز محرم و روز عاشورا بر شیعه ها حمله نکردند. روزنامه عدم حمله طالبان بر شیعه های پاکستان را هم نمایندگر این مساله می داند که تندروان پاکستان توجه را از پاکستان به افغانستان تمرکز داده اند. هیچ گزارش از حمله بر شیعه ها در پاکستان در مراسم عاشورا در دست نیست. شیعه های پاکستان هم ازین مساله خوشحال اند.

به نوشته ایشیا تایمز، در نتیجه نزدیک شدن حکومت پاکستان و طالبان پاکستانی، از حمله پانزدهم سپتمبر در خیبر پشتونخواه به این طرف، که در آن ۴۶ نفر کشته شدند، دیگر حمله در پاکستان صورت نگرفته است و حمله کننده گان انتحاری توجه را به افغانستان معطوف داشته اند.

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤل مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤل مدیر ۰۷۷۷۰۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله   آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه، کابل - افغانستان   Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com